## د ټرون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا

**<u>موضوع: د مایکرو سیستمس ارتباطي ټکنالوژۍ او معلوماتي خدماتو شرکت ته د ټرون ورکولو دپرېکړې خبرتیا</u>**

د تدارکاتو قانون د دري څلویښتمې مادې له دویمې فقرې سره سم، ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري چې د افغانستان بانک د معلوماتي تکنالوژۍ لوی آمریت لپاره د آوایا آپګریشن چمتو او تدارک کولو پروژه د مایکرو سیستمس ارتباطي ټکنالوژۍ او معلوماتي خدماتو شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د (35207) شمېرې جواز لرونکی او اصلي استوګنځای یې د تایمنیو دویم سړک، مرکز کابل کې دی د ټرون ټولیزه بیه/2,200,000- دوه میلیونه او دوه سوه زره افغانۍ ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په یادولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د ټرون د لاسلیکولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به ټرون نه ترسره کیږی.